# د یقین برکتونه

## 23-May-2024



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 23 مئي کال 2024ء (بمطابق 14 ذوالقعدة الحرام، 1445ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د يقين برکتونه

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ وور د ګلونو باغ جوړ شو
- ـــ د اوسني وخت د ټولو نه لويه مسئله
- ـــ د يقين پۀ برکت يـې جنّت نصيب شو
- ـــ غَل قُطب څنګه جوړ شو--؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖن،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله        وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِیَّ الله        وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف** (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

غم او درد ختمونکي آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پۀ ما باندې يو ځل درودِ پاک ولولي، اللّٰه پاک به پۀ هغه باندې لس رحمتونه نازل کړي، څوک چې پۀ ما باندې لس ګَرَته دُرُودِ پاک ولولي، اللّٰه پاک به پۀ هغه باندې 100 رحمتونه نازل کړي او څوک چې پۀ ما باندې 100 ګَرَته دُرُودِ پاک ولولي، **اللّٰه پاک به د هغه د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا بنده د منافقت او د دوزخ د وور نه ازاد دے۔**(1)

نامِ حضرت پہ لاکھ بَار دُرُود | بے عَدد اور بے شُمار دُرُود
ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دَم بدَم اور بَار بَار دُرُود
مومنو! آپ پر پڑھے جاؤ | با اَدَب اور باوَقار دُرُود
جو محِبِّ نبی ہے اے کافیؔ! | چاہیے اس کو بار بار دُرُود(2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا د دُرُودِ پاک عظيم الشّان برکت دے چې د دې پۀ برکت د زړۀ نه د منافقت اثرات ختميږي او ايمان پخيږي۔ علّامه اِبنِ حجر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

[1]… مجمع الزوائد،کتاب الادعية، فی الصلوة علی النبی…الخ، جلد:10، صفحہ:184، حديث:17298۔
[2]… کافی کی نعت، صفحہ:38۔

ليکي: دُرُودِ پاک يوه نيکي نه ده بلکې دا د ډېرو نيکو مجموعه ده ❀ د دُرُودِ پاک لوستلو سره ايمان تازه کيږي، دا يوه نيکي ❀ د دُرُودِ پاک په برکت سره په رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې يقين زياتيږي، دا دويمه نيکي ❀ په دُرُودِ پاک لوستلو کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم دے، دا دريمه نيکي ❀ د دُرُودِ پاک لوستلو سره په آخرت باندې ايمان پخيږي، دا څلورمه نيکي ❀ په دُرُودِ پاک کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِحسانونو ذِکر دے، دا پينځمه نيکي ❀ په دُرُودِ پاک کښې د نيکانو د سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر دے او د نيکو په ذِکر باندې رحمت نازليږي، دا شپږمه نيکي ده۔ (3)

دغه شان نورې ډېرې نيکۍ دي کومې چې د يو دُرُودِ پاک په ضمن کښې راځي۔ څکه مونږ له پکار دي چې په زړۀ کښې د ايمان زياتولو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق زياتولو او د الله پاک د رحمتونو د حقدار جوړيدو د پاره په کثرت سره دُرُودِ پاک ولولو۔

| | |
|---|---|
| نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو! | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر دُرُود پڑھو! |
| جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیش تر دُرُود پڑھو! |
| ہزار دَرد کو یہ ایک دَوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر دُرُود پڑھو! (4) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (5)

---

3 ... (الدر المنضود، ص:52)۔

4 ... نورِ ايمان، صفحہ:56 تا 57 ملتقطاً۔

5 ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس چې کومې ورځې دي، د ذُوالقَعدۃِ الحَرام مبارکه مياشت روانه ده، ډيره زر به د ذُو الحج مياشت تشريف راوړي، اِنْ شَآءَ الله! عاشقانِ رسول به د سُنَّتِ ابراهيمي ادا کولو د پاره قربانۍ کوي، خوش قِسمته خلق حج له هم رسيدلي دي او بعضې روان دي، هلته به هم د حضرات ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت إسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام او د حضرت هَاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها يعنې د آلِ ابراهيم عليهِمُ السَّلام يادونه نـمانځلے شي-

دا مبارکه ورځ مونږ ته پۀ خاص طور د اِيمان او د يقين سبق راښائي، پۀ الله پاک، د هغه پۀ رحمت، د هغه پۀ عناياتو پوخ يقين ساتل، بغير د ليدلو نه الله پاک منل، د هغه پۀ وعدو باندې ډير پوخ يقين ساتل، دا د دې برکتي ورځو خصوصي سبق دے- د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پاک سيرت ته وګورئ! د بے مثاله اِيمان او يقين نه ډَک دے-

## وور د ګلونو باغ جوړ شو--!!

ډيره مشهوره واقعه ده، تاسو به خو ګرته اوريدلې وي، پۀ قرآنِ مجيد کښې هم د دې واقعې څۀ تفصيل بيان کړے شوے دے، نَمرُود د وخت ظالم بادشاه وو، د هغۀ پوره سلطنت وو، دې بد بخته د خدايۍ دعوىٰ کړې وه، اَسْتَغْفِرُالله خلق د دۀ پۀ عبادت کښې مصروف وو، يعنې يو خوا پوره سلطنت دے، بل خوا يواځې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دے، پۀ داسې ماحول کښې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يواځې د حق غږ پورته کړو،

خلقو ته يې د نيکۍ دعوت ورکولو-

نَمرُود دا هر څۀ څنګه برداشت کولے شو؟ هُغه بدبخته د ډېر غټ وور بلولو حکم وکړو، تر څو ورځو پورې لرګي راجمع کړے شول، يوه غټه چار ديواري تياره کړے شوه، يو ډېر غټ وور بَل کړے شو- **پۀ کتابونو کښې ليکلے شوي دي** چې دا دومره ډېر وور وو چې د دې د بره تر څو ميټرو پورې مرغو پر نشو وهلے، که مرغۍ به پرې د بَره پر وهلو نو سوزيدله به او لاندې به راغورځيدله، دومره ډېر وور بَل کړے شو، بيا منجنيق (د کاڼو ويشتو مشين) تيار کړے شو، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ منجنيق کښې کښينولے شو او د وور پۀ لور اوچت کړے شو---!! (6)

بيا دلته د يقين حالت ته وګورئ چې صرف وور ته د غورځولو دهمکياني نه ورکړے کيږي، وور ته د غورځولو صِرف ورځ او وخت مقرر نکړے شو، داسې نه ده چې وور ته د غورځولو تيارياني کيږي بلکې د وور پۀ لور اوچت کړے شوے دے-

صرف د پوهه کولو د پاره عرض کووم که څوک قيد کړے شي نو اُميد وي چې شايد د بچ کيدو څۀ لار راوځي، که چا ته سزا واورولے شي، نو بيا هم اُميد وي چې شايد د خوشي کيدو څۀ حل راوځي، دلته دا معامله نه ده، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د وور پۀ لور اوچت کړے شوے دے يعنې د اُميدونو وخت ختم شوے دے، دا هُغه وخت دے چې د عامو خلقو پۀ دې وخت کښې ټول اُميدونه ختم شوي وي خو قربان شم! دے حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دے، دا بے مثاله ايمان والا هستي ده، د باکماله يقين والا شخصيت دے- **پۀ روايتونو کښې ليکلي دي** چې کله حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د وور پۀ لور اوچت کړے شو نو بيا حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو، عرض يې وکړو: اے ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ! که څۀ حاجت وي نو ووفرمايئ! اوئې فرمائيل: حاجت خو دے

---

[6]…طبری، 242/1۔

خو اے جبریله! تاسو ته نه دے- عرض یـې وکړو: چې چا ته مو حاجت دے نو هغوئي ته عرض وکړئ! اوئې فرمائیل: حَسْبِیْ مِنْ سُؤَالِیْ عِلْمُهٗ بِحَالِیْ یعنې اے جبریل عَلَیْهِ السَّلَام! زۀ پۀ څۀ حال کښې یم، رَبِّ کریم ته معلومه ده، هغۀ ته معلومیدل زما د غوښتو نه زیات بهتر دي-(7)

سُبْحٰنَ الله! څومره بے مثاله یقین دے، د الله پاک پۀ رحمتونو، د هغۀ پۀ عنایتونو باندې څومره پوخ ایمان دے، بیا د دې ایمان نتیجې ته هم وګورئ چې څومره زبردسته ده، حکم اوشو:

| | |
|---|---|
| یٰنَارُ كُوْنِیْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰۤى اِبْرٰهِیْمَ ﴿۶۹﴾ (پاره:17، الانبیاء:69) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ الْعِرفان: اے ووره! پۀ ابراهیم باندې یخ او سلامتی والا شه. |

اَللّٰهُ اَکْبَر! د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ایمان پوخ وو، یقین یـې بے مثاله وو نو رَبِّ کریم د هغوئي د پاره دومره ډیر وور ګلزار (یعنې د ګلونو باغ) جوړ کړو-

## نَمرُودي وسوزیدو او اِیره شو

پۀ روایتونو کښې دي: حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې کله وور ته وغورځولے شو نو د هغې نه څو ورځې پس نَمرُود د خپل مَحل چهت ته وختو، د دې کتو د پاره چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پۀ څۀ حال کښې دے، چې کله هغۀ وکتل نو ډیر حیران پاتې شو چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پۀ وور کښې پۀ ارام تشریف فرما دے او وور د هغوئي د پاره ګلزار (یعنې د ګلونو باغ) جوړ شوے دے-

بیا هغۀ ته داسې ښکاریده چې کیدے شي پۀ دې وور کښې څۀ مسئله وي، دا وور سیزولو والا نه دے، نو هغۀ د تجربې د پاره یو ګَس وور ته وغورځولو، څنګه چې هغۀ وور ته پریوتو، فوراً وسیزو او اِیره شو، یعنې وور پۀ خپل طبیعت باندې وو، د وور کار

---

7...قرطبی، ـ

دے سیزل او هغه هم سیزل کول، خو د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د پاره ګلزار (یعني د ګلونو باغ) وو- **د حضرت ابراهیم** عَلَيْهِ السَّلَام **دا عظیمُ الشّانه معجزه چې یې ولیدله نو ډیرو خلقو کلمه ووئیله او مسلمانان شول-**

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دے د ایمان او د یقین برکت--!! ډاکټر اقبال وائي:

آج بھی ہو جو ابراہیم سا اِیماں پیدا | آگ کر سکتی ہے اَندازِ گُلستاں پیدا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا صرف د شاعرۍ خبره نه ده، حقیقت دے چې کله ایمان پوخ شي، یقین پوخ شي نو د رَبِّ کریم رحمتونه ضرور نصیب کیږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت اَبُو مُسلم خَولَاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یقین

حضرت اَبُو مُسلم خَولَاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چا ته چې د دې اُمَّت حکیم (یعني ډیر عقلمند او هوښیار انسان) وئیلے شوے دے، هغوئي تابعي دے، په یمن کښې اوسیدو- د هغوئي په وخت کښې، د هغوئي په علاقه کښې اَسوَد عَنسِي نومې کَس د نُبُوَّت د دروغو دعویٰ وکړه، هغهٔ یوه ورځ هغوئي په زوره ځان ته راوبللو او پوښتنه یې وکړه: آیا تهٔ ګواهي ورکوې چې مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د الله رسول دے؟ اوئې فرمائیل: **آؤ، بالکل- (حضرت مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د الله پاک رښتونے نبي دے، زما آقا دے، زهٔ په هغوئي باندې ایمان لرم-)** اَسوَد بیا پوښتنه وکړه: آیا تهٔ ګواهي ورکوې چې زهٔ د الله رَسول یم؟ هغوئي (ډیر په سادګۍ سره) ووفرمائیل: ما نه دي اوریدلي چې تهٔ څهٔ وائې- دا یې چې واوریدل نو اَسوَد عَنسِي له دیره غصه ورغله، هغهٔ فوراً حکم وکړو چې ډیر غټ وور بَل کړئ- د هغهٔ نوکرانو فوراً وور بَل کړو- بیا یې حکم وکړو: اَبُو مُسلم دې بَل وور ته وغورځوئ- نو هغوئي ھغه بَل وور ته وغورځولے شول-

خو واه! سُبْحٰنَ الله! لکه څنګه چې الله پاک پهٔ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې وور يخ او سلامتي والا جوړ کړے وو، هم هغسې د حضرت اَبُو مُسلم خَولَاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَيۡه د پاره هم وور سلامتي والا شو، د الله پاک پهٔ فضل سره هغوئي صحيح سلامت د وور نه بهر تشريف راوړلو۔ دا حيرانيدونکے منظر يې چې وليدو نو اَسوَد عَنسِي پهٔ خپله د نُبُوَّت د دروغو پهٔ دعوىٰ سخت وشرميدو، هغهٔ خطره محسوس کړه چې که دا معامله مشهوره شوه نو خلق به زما نُبُوَّت هيڅکله هم نه مني، نو هغهٔ هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَيۡه د يمن نه ويستو او هغوئي مدينے منورې ته حاضر شول۔ (8)

غُلامی میں نہ کام آتی ہیں شمشیریں، نہ تدبیریں
جو ہو ذوقِ یقیں پیدا تو کٹ جاتی ہیں زنجیریں
کوئی اندازہ کر سکتا ہے اس کے زورِ بازُو کا
نگاہِ مردِ مومن سے بدل جاتی ہیں تقدیریں

**وضاحت**: انسان چې کله غلام شي نو نهٔ تورې پهٔ کار راځي، نهٔ د هوښيارانو تدبيرونه پهٔ کار راځي، دا صرف د يقين ذوق دے، چې دا نصيب شي نو د هر مشکل حل راوځي۔ د مردِ مؤمِن يعنې د پوخ يقين او رښتوني ايمان والا انسان د نظر دا کمال دے چې پهٔ چا پريوځي، د هغهٔ قِسمت بدل شي، چې د هغهٔ د نظر دا کمال دے نو بيا د هغهٔ د مَټو د همت او زور اندازه څوک لګولے شي---؟

## ضروري وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ ته پهٔ الله پاک، د هغهٔ پهٔ رحمت، د هغهٔ پهٔ عنايت باندې پوخ يقين ساتل پکار دي، ضرور ساتل پکار دي خو دا هم ياد ساتئ چې د

---

8...حلية الاولياء، جلد:2، صفحه:150 - 151 ملتقطًا۔

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د پاره وور د ګلونو باغ جوړ شو، حضرت اَبُو مُسلم خَولَاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه بے ویرې وور ته تشریف یوړلو، دا د ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام معجزه او د حضرت اَبُو مُسلم خَولَاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه کرامت دے- مونږ له قصداً عمداً د داسې خطرې سره مخ کیدل نه دي پکار- مونږ بندګان یو، هم بندګان به اوسو- مَعَاذَ الله! د الله پاک د قُدرت امتحان اخستل زمونږ د پاره صحیح نه دي- د الله پاک د نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام واقعه ده، یو ځل هغوئي ته چا ووئیل: اے عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ! آیا تاسو پهٔ الله پاک باندې پوره باور لرئ؟ اوئې فرمائیل: آؤ! بالکل یې لرم- هغهٔ ووئیل: بیا تاسو د دې غر نه ټوپ کړئ! ګورو چې ستاسو رَبّ تاسو بچ کوي که نهٔ؟ حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ووفرمائیل: زهٔ پهٔ الله پاک باندې باور ضرور لرم خو د هغهٔ امتحان هیڅکله هم نه اخلم- [9]

سُبۡحٰنَ الله! مونږ له هم داسې انداز اختیارول پکار دي-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب     صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اِیمان او د یقین بے مثاله واقعه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د اِیمان او د یقین یوه بَله بے مثاله واقعه واورئ! د دریو ګسانو یوه قافله وه، د شام مُلک نه روانه شوه، پهٔ دې قافله کښې ✿ یو حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ✿ یوه د هغوئي کور وداني محترمه حضرت هاجره رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهَا ✿ دریم د هغوئي وړوکے شهزاده حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام وو- حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام هم د هغوئي سره وو چا چې ورته لاره ښودله-

اوس لږ غور وکړئ چې د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام عمر مبارک د 90 کالو نه هم زیات وو، هغوئي ته هٰغه وخت ځوي عطا کړے شو، بیا حکم اوشو چې اے ابراهیمه!

---

9 ...فیض القدیر، جلد:3، صفحه:392، زیرِ حدیث:3445۔

خپل ځوي او د هغهٔ مور پهٔ خوشې دَره [يعني وادیٔ] کښې پرېږده! د حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د اطاعت جذبې ته وګورئ! خپل يواځنے او ېي ښنونکے شهزاده بوځي او پهٔ خوشې دَره کښې يې پرېږدي او کمال ته وګورئ! **پهٔ روايتونو کښې دي**: حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام به د اطاعت پهٔ شوق کښې بيا بيا پوښتنه کوله: اے جبريله! آيا مونږ خپل منزل ته راورسيدو؟ حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام به عرض کولو: اے د الله پاک نبي عَلَیْہِ السَّلَام! لا نه يو رارسيدلي-

داسې يې کول او تلل چې يوه دَره راغله، هلته نهٔ اوبه وې، نهٔ خوراک وو، تر لرې لرې پورې انسان خو څهٔ کړې چې مرغۍ هم نه ښکاريده، دغلته يوه اوچته شان ډيرۍ هم وه--- دا کوم ځائے وو؟ چرته چې د مکے مکرمې مبارک ښار وو او هُغه ډيرۍ هُغه ځائے وو چرته چې اوس کعبه شريفه موجوده ده--- دغلته چې راورسيدل نو حضرت جبريل امين عَلَیْہِ السَّلَام عرض وکړو: اے د الله پاک نبي عَلَیْہِ السَّلَام ! دا هُغه ځائے دے- حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د سورلۍ نه راکوز شو، خپل ماشوم شهزاده او کور وداني محترمه يې هلته کښېنول، لږې شان اوبه، لږې شان کجورې يې ورسره کيښودې او واپس ترينه روان شو! بيا ورپسې حضرت هَاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها وروستو وروستو راغله، عرض يې وکړو: اے د الله پاک نبي عَلَیْہِ السَّلَام ! مونږ چا ته پرېږدئ؟ حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام خاموشه پاتې شو- بيا يې پوښتنه وکړه: اے د الله نبي عَلَیْہِ السَّلَام ! مونږ چا ته پرېږدئ! هغوئې بيا خاموشه پاتې شول- حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها پهٔ دريم ځل پوښتنه وکړه او دا ځل يې پوښتنه لږه بدله کړه او عرض يې وکړو: آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا يعني اے د الله نبي عَلَیْہِ السَّلَام ! آيا الله پاک تاسو ته دا حکم کړے دے؟ اوئې فرمائيل: آؤ! د الله پاک حُکم دے-

بيا يقين ته وګورئ! د ايمان پوخ والي ته وګورئ! خوشې دَره ده ❁ نهٔ اوبه شته ❁

نۀ خوراک شته ❁ نۀ څوک انسان شته ❁ نۀ يوه مرغۍ دلته پر وهي او ورسره وړوکے شهزاده هم دے، د دې باوجود حضرت هاجره رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡھا ډير پۀ يقين او اطمينان سره ووئيل: اِذًا لَّا يُضَيِّعُنَا اللّٰهُ يعنې اے د الله پاک نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ! که دا د الله پاک حکم دے، نو بيا خو تاسو پۀ خير سره لاړ شئ! الله پاک به هيڅکله هم مونږ ضائع نه کړي- (بخاري)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د غور خبره ده، شاړه علاقه ده، تر لرې لرې پورې د ژوند څۀ نخښه نخښانه نشته، پۀ ظاهره داسې څۀ څيز نشته پۀ کوم چې باور وکړے شي---! خو پۀ الله پاک باندې ايمان دے ❁ هغه رَبِّ رحمان د قُدرتونو والا دے ❁ الله پاک هغه دے چې د مړ نه ژوندے پيدا کولے شي ❁ الله پاک هغه دے چې شپۀ پۀ ورځ او ورځ پۀ شپۀ کښې بدلوي ❁ الله پاک هغه دے چې شاړه زمکه شنه او زرغونه کوي ❁ الله پاک هغه دے چې پۀ دشتو کښې هم چينې جاري کوي، لہٰذا صرف پۀ الله پاک باندې يقين دے ❁ څۀ اوشو که دلته اوبه نشته؟ هُغه رَبّ اوبه عطا کوونکے دے ❁ څۀ اوشو که دلته د خوراک د پاره څۀ نشته، رَبِّ کريم رزق عطا کوونکے دے، ❁ څۀ اوشو که دلته د ژوند آثار نه ښکاري، رَبِّ کريم کنډرات ابادوونکے دے، **لہٰذا د الله پاک نبي** عَلَيۡهِ السَّلَام **! تاسو پۀ خير سره لاړ شئ! چې د رَبّ حُکم دے چې مونږ دلته پاتې شو نو مونږ به دلته پاتې شو، الله پاک به مونږ نه ضائع کوي-**

يقيں...!! مِثلِ خَلِيل آتش نَشِينی
يقيں...!! اللہ مستی، خُود گُزِينی
سُن اے تہذیبِ حاضِر کے گرفتار!
غُلامی سے بدتَر ہے بے یقینی

وضاحت: ❁ يقين څۀ دے؟ د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام ! پۀ شان بغير د ويريدو د وور قبلولو نوم دے، ❁ يقين څۀ دے؟ د الله پاک پۀ محبت کښې د غرقيدو او د ځان د

اِصلاح کولو نوم دے- اے د اوسني وخت پهٔ نوي تهذيب مئينو--!! بے يقيني د غلامۍ نه هم ډير بد خيز دے-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې ايمان او پوخ يقين برکت ته هم وګورئ! ❁ شاړه علاقه وه، اوس هلته ښومره ګڼه ګُڼه وي ❁ هلته د ښځو د پاره يو ګوټ اوبه قدرې نه وې، الله پاک د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو مبارکو نه د زَم زَم چينه جاري کړه، تر اوسه پورې دُنيا د دې چينې نه اوبه ښکي خو هډو ختميږي نه ❁ هلته تر لرې لرې پورې د ژوند څهٔ آثار نه ښکاره کيدل خو چې چرته د الله پاک دې نيکې بندې حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ښپې مبارکې کيښودې وې، **الله پاک د هغې صَفا او مَروَه سَعي (يعني د دغه غرونو ترمينځه منډه) تر قيامته پورې واجب کړې ده-**

## د اوسني وخت د ټولو نه لويه مسئله

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کاش چې زمونږ هم داسې پوخ يقين نصيب شي! د اوسني وخت د ټولو نه لويه مسئله چې کومې ته مونږ وئيلے شو، هغه د بے يقينۍ حالت دے- نن سبا مسلمان اُمّت پهٔ شريک طور د ډيرو مسئلو سره مخ دے ❁ غربت عام دے ❁ مشکلات دي، هر دويم کَس پهٔ مشکلاتو کښې راګير دے ❁ جنګ جګړې دي ❁ بے اتفاقي ده ❁ پهٔ دُنيا کښې پهٔ ډيرو ځايونو کښې پهٔ مسلمانانو ظلم زور روان دے، الله پاک دې د هغوئي غيبي مدد وکړي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانانو پهٔ تاريخ کښې غوره کارنامې ترسره کړې دي، الله کريم مسلمانانو له ډير اوچت شان ورکړے دے خو اوس حالات لږ بَل شان دي، د دې وجه څهٔ ده؟ پهٔ دې باندې که تجزيه وکړے شي نو شايد چې ډيرې زياتې وجهې رامخې ته شي خو د دې ټولو يوه وجه، کومې ته چې شايد د ټولو نه لوئي وجه هم وئيلے شي، هغه بے يقيني ده- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک واورئ! د مشهور صحابئ رسول حضرت اَبُو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے،

رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَا اَخَافُ عَلٰى اُمَّتِى اِلَّا ضَعْفَ الْيَقِيْنِ يعني زۀ پۀ خپل اُمَّت نه ويرېږم خو د يقين پۀ کمزورئ [ويرېږم]- (10)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تر قيامته پورې عِلم لرونکے دے، تر قيامته پورې به څۀ کيږي، خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول حالات ويني، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه وه چې زما اُمَّت به پۀ شرک کښې نه اخته کيږي، زما اُمَّت به د الله پاک نه انکار نه کوي، آؤ! خو زما اُمَّت چې به د کومې مسئلې سره مخ کيږي، هغه د يقين کمزوري ده-

يو بَل حديثِ پاک واورئ! رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: نَجَا اَوَّلُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بِالْيَقِيْنِ وَ الزُّهْدِ د دې اُمَّت مخکښينو خلقو پۀ يقين او د دُنيا نه د بے رغبتئ پۀ ذريعه نجات حاصل کړو وَيَهْلِكُ آخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بِالْبُخْلِ وَ الْاَمَلِ او د دې اُمَّت پۀ آخره کښې راتلونکي د کنجوسئ او اوږدو اُميدونو پۀ سبب هلاک شول- (11)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د پوهې خبره ده، د دې اُمَّت مخکښينو خلقو د پوخ يقين پۀ برکت نجات حاصل کړو او پۀ آخره کښې راتلونکي به د کنجوسئ او اوږدو اُميدونو پۀ وجه هلاک شي- کنجوسي څۀ ده؟ د بے يقينئ يو کيفيت دے، د بنده چې کله پۀ الله پاک باندې د رازق کيدو پوخ يقين نه وي نو هغه د کنجوسئ نه کار اخلي- غرض دا بے يقيني ده د کومې پۀ وجه چې به دا اُمَّت پۀ هلاکت کښې اخته شي-

## د بے يقينئ يو څو مثالونه

[10] ... اليقين لابن ابی دنيا،۔

[11] ... اليقين لابن ابی دنيا،۔

افسوس! نن د بے يقينۍ دا حالت عام کيږي- مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان يو، په الله پاک باندې ايمان لرو خو افسوس! ❁ مونږ خو منو چې رزق الله پاک ورکوي، بيا هم په مال پسې سر وهلي منډې وهو، څوک د لندن، پيرس خوبونه ويني، څوک سود کوي خو بعضې داسې نادانه هم دي کوم چې مَعَاذَ الله! د پيسو د پاره د اِيمان سودا هم کوي ❁ مونږ منو چې الله پاک د مشکلاتو نه نجات ورکوونکے دے خو د پريشانۍ او ډپريشن ښکار کيږو ❁ مونږ منو چې نـمونځ دُنيا هم ښه کوي، آخرت هم ښه کوي خو په نـمونځ باندې دُنيا له ترجيح ورکوو ❁ مونږ منو چې د مسلمان ترقي په قرآن باندې په عمل کولو کښې ده خو قرآن نه پخپله لولو، نه يې بچو ته ښايو ❁ مونږ منو چې الله پاک دعاګانې قبلوي خو بے يقيني ده، اَوَّل خو دُعا کوونکي ډير کم دي، که غواړو يې هم نو د بے يقينۍ سره يې غواړو-

## مرغۍ او ړوند مار

اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکي: يو ځل د ډاکوانو يوه ډله د شوکې د پاره يو داسې ځائے ته لاړه چرته چې د کجورو درې وَنې وې، په دې کښې يوه وَنه وچه وه، يعنې هغې ميوه نه وه کړې- د ډاکوانو د سردار بيان دے چې ما وکتل چې يوه مرغۍ د يوې بار دارې [يعني ميوه دارې] وَنې نه الوځي او په وچه ونه کښې کښيني او لږ وخت پس رالوځي او بيرته بار دارې ونې ته راځي، بيا د هُغه ځائے نه الوځي او بيرته هُغه وچې وَنې ته ځي- داسې هغې ډيرې چکرې ووهلې- زهٔ ډير حيران شوم او وچې ونې ته وختم نو څهٔ ګورم چې هلته يو ړوند مار خُله وازه کړې ده او مرغۍ د هغه په خُله کښې کجورې ږدي- دا مې چې وليدل نو زهٔ په ژړا شوم او د الله پاک په بارګاه کښې مې عرض وکړو چې اے الله پاکه! يو خوا دا مار دے د کوم د وژلو حکم چې ستا نبي محترم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کړے دے خو چې تا د دهٔ نه سترګې

واخستې نو د دهٔ د ګُزارې د پاره دې يوه مرغۍ مقرر کړه- بل خوا زهٔ ستا مسلمان بنده يم او د دې باوجود مسافر ويرووم او لوږ کووم- هُغه وخت يو غيبي اواز اوشو: اے فلانکيه! د توبې د پاره زما دروازه برسيره ده- دا مې چې واوريدل نو ما خپله توره ماته کړه او اومې وئيل چې ما خپل ګناهونه پريښودل- بيا مې هُغه غيبي اواز واوريدو: مونږ ستا توبه قبوله کړې ده- زما د دې توبې حال يـې چې واوريدو نو ټولو ملګرو مې هم رښتونې توبه کړه- بيا مونږ ټول پهٔ شريکه د حج پهٔ اراده د مکے مکرمې پهٔ لور روان شو- د دريو ورځو سفر کولو نه پس مونږ يو کلي ته ورسيدو، هلته مو يوه نابينا بوډۍ وليده کومې چې زما نوم اخستو او پوښتنه يـې کوله چې پهٔ دې قافله کښې هغهٔ هم دے؟ زهٔ وروړاندې شوم او اومې وئيل: آؤ جي! هغهٔ هم زهٔ يم- وايه! څهٔ خبره ده؟ بوډۍ راپاڅيده او د کور نه يـې جامې راوړې او اوئې وئيل: يو څو ورځې مخکښې زما نيک ځوي وفات شوے دے- دا هم د هغهٔ جامې دي- درې ورځې پرله پسې پهٔ خوب کښې زما د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستا نوم واخستو او اوئې فرمائيل: هغهٔ راروان دے، دا جامې هغهٔ له ورکړه- (رَوْضُ الرَّياحِين ص ۲۳۲)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ! د رَبِّ کريم څومره ځانګړے شان دے---!! کوم کريم مالک چې د ړوند مار د رزق بندوبست د مرغۍ پهٔ ذريعه کولے شي، آيا هغهٔ به مونږ بندګان، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان داسې بے اسرې پريږدي---؟ نهٔ---!! نهٔ- د رزق ذِمه هُغه مالِک پهٔ خپل کرم اخستې ده او هغهٔ ضرور عطا کوي-

خلقت جب پانی کو ترسے، رِم جھم رِم جھم برکھا برسے
ہر اِک پر رحمت کی نظر ہے یااللہ! یااللہ!

يقيناً الله پاک عطا کوي، ضرور عطا کوي- هر يو ته يې عطا کوي خو مسئله دا ده چې زمونږه يقين کمزورے شوے دے-

## د حضرت صِدِّيقِ اکبر کامِل يقين

د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د رَبُّ العباد ارشاد دے:

وَ مَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا (پاره:12، ہُود:6)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پۀ زمکه ګرځيدونکے يو ساه لرونکے هُم داسې نشته چې د هغه رزق د **الله** پۀ ذِمّۀ کرم نه وي.

حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د کله نه چې ما دا آيت لوستلے دے نو پۀ خدائے مې دې قَسم وي چې ما د رزق فِکر پريښودے دے- (12)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ --!! چې الله پاک ووفرمائيل چې رزق زما پۀ ذِمۀ کرم باندې دے نو د دې نه پس مونږ ته د فِکر کولو څۀ ضرورت دے- تَوَکُّل اختيار کړئ- رزق د الله پاک پۀ ذِمه کرم باندې دے، هغۀ به مونږ ته رزق راعطا کوي- مونږ له پکار دي چې د رزق پۀ فِکر کښې د شپو ورځو تيرولو پۀ ځائے د نيک کارونو فِکر کوو، جنّت ته د تللو فِکر کوو-

يقيناً حلال رزق ګټل هم زمونږه ذِمه واري ده، پۀ مناسب طور مونږ ته هم کار ګسب کول دي خو شپۀ ورځ د مال فِکر کول صحيح خبره نه ده- چې مونږ د الله پاک پۀ کارونو کښې مصروف شو يعنې ❀ مونږ نيک کارونه کوو ❀ نمونځونه کوو ❀ عبادتونه کوو ❀ د دِين خدمت کوو ❀ پۀ مَدَني قافلو کښې سفر کوو ❀ د نيکۍ دعوت

---

[12] ...اللمع فی التصوف، باب ذکر ابی بکر الصدیق...الخ، صفحہ:171۔

ورکوو نو د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! زمونږ دنيائي کارونه هم ښه شي- بس مونږ له پوخ يقين ساتل پکار دي--!!

## باور ساتل پکار دي، اَسبَاب نه دي پرېښودل پکار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک رازِق دے، رزق ورکوونکے دے، هغهٔ ټولو له رزق ورکوي، څوک هم وږے نه پرېږدي، مونږ له د هغهٔ پهٔ وعده باندې پوخ يقين ساتل پکار دي خو د دې مطلب دا هيڅکله هم نه دے چې مونږ ظاهري اسباب پرېږدو او تيارې ته کښېنو، مثلاً د نن نه څوک دا نيت وکړي چې الله پاک رزق ورکوونکے دے نو د کار کولو څهٔ ضرورت دے؟ ټوله ورځ د محنت کولو څهٔ ضرورت دے؟ يقيناً رزق هم الله پاک ورکوي، چا له يې د دُکان پهٔ ذريعه ورکوي، چا له يې د تجارت پهٔ ذريعه ورکوي، چا له يې د محنت مزدورئ پهٔ ذريعه ورکوي- ورکوي يې هم هغهٔ خو د ورکولو انداز يې مختلف دے- ځکه دا انداز ضرور اختيارول دي- مشهور صُوفي بزرګ شيخ سعدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکي: يو ګس وو، د کور نه د محنت مزدورئ د پاره ووتو، د کار پهٔ لټون کښې وو چې پهٔ لاره کښې يې يوه ګيدړه وليدله، ړانده هم ده، شَله هم ده يعنې نه ليدل کولے شي او نه ګرځېدے شي- دا يې چې وليدله نو هغهٔ حيران شو چې دا ګيدړه به خوراک څنګه کوي؟ نو هغهٔ هم هلته پټ کښېناستو، لږ وخت تير شوے وو چې يو ازمرے هلته راغلے، هغه پهٔ خُله کښې څهٔ ښکار نيولے وو، هغه هُغه ښکار د ګيدړې مخې ته وغورځولو، ګيدړې چې څومره خوړله نو اوئې خوړه، باقي چې کومه پاتې شوه نو هغه ازمري يوړه- هُغه ګس دا هر څهٔ ليدل- چې کله هغهٔ د الله پاک د قدرت دا نظاره وليدله نو هغهٔ پوخ نيت وکړو چې الله پاک دې ګيدړې له خوراک ورکولے شي نو زهٔ خو اشرفُ المخلوقات يم، ما ته يې هم راعطا کولے شي- نو هغهٔ لاړے او پهٔ يو جومات کښې کښېناستو او الله، الله يې شروع کړل- يوه ورځ تيره شوه، خوراک ميلاؤ نشو،

دويمه ورځ تيره شوه، بيا هم هيڅ خوراک ميلاؤ نشو، دريمه ورځ هم تيره شوه خو د خوراک هيڅ انتظام اونشو، بيا خو د لوږې د لاسه د هغهٔ حالت خراب شوے وو، هغهٔ پهٔ ژړا د الله پاک پهٔ بارګاه کښې فرياد وکړو نو يو غيبي اواز وشو، اے انسانه! تا خو ګيدړه وليدله، آيا ازمرے دې اونه ليدو؟ آيا دا به ښه نه وي چې تهٔ ځان د ازمري پهٔ شان کړې، د ځان د پاره هم محنت وکړې او پهٔ نورو يــې هم وخورې- بيا د هُغه ګس عقل ځائے له راغلے او هغهٔ پهٔ محنت مزدورۍ کښې مشغول شو- (13)

بهر حال! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مقصد دا دے چې د الله پاک پهٔ عطا باندې، د هغهٔ پهٔ عنايتونو باندې، د هغهٔ پهٔ رحمتونو باندې يقين ضرور ساتل پکار دي خو د دې دا مطلب نه دے چې مونږ محنت پريږدو- کوم قوم چې محنت پريږدي، د الله پاک رحمت د هغوئي پهٔ لور نه متوجه کيږي- ځکه محنت هم کوئ او پهٔ الله پاک باندې پوخ يقين هم ضرور ساتئ-

## هم تاسو به غالِب کيږئ--!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! رښتيا وايم: که زمونږ يقين پوخ شي نو پهٔ هر ميدان کښې به مو کټه نصيب شي، مونږ به پهٔ دې دُنيا کښې هم کامياب شو او آخرت به مو هم ښه شي- الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۳۹﴾<br>(پاره:4، آل عمران:139) | [مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او تاسو هِمّت مه بيلئ او غم مه کوئ، که تاسو ايمان والا ئې نو هُم تاسو به غالِب کيږئ. |

يعني اے مسلمانانو--!! اے د محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو--!! هم تاسو به غالب

13 … کليات سعدی، بوستان، باب دوم در احسان، صفحہ:200 ملخصاً-

کيږئ بس دا يو شرط دے: رښتوني ايمان والا شئ! پۀ الله پاک باندې کامِل باور لرونکي جوړ شئ--!! چې دا يو شرط پوره کړے شي، ايمان رښتونے او يقين پوخ کړے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! مسلمان به هميشه غالب وي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يقين د ايمان ځان دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره ياد ساتئ چې پۀ الله پاک، د هغۀ پۀ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د الله او د رسول پۀ فرامينو باندې پوخ يقين او پوخ اعتماد ساتل دا د ايمان ځان دے، که دا اعتماد کمزورے شي نو زمونږ ايمان خوئيدے شي- لهٰذا دا لازمي او ضروري ده چې مونږ د خپل عقل نه زيات، د خپلو سترګو نه زيات، د خپلې تجربې نه زيات د الله او رسول پۀ حکمونو او د هغۀ پۀ فرامينو باندې اعتماد وکړو- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ الله او پۀ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې باور لرل دا د ايمان حقيقت دے، د څيز ليدلو يا اوريدو سره خو يــې هر يو ګس مني خو ھغه څيز کوم چې د هغه نه غيب [پټ] وي او عقل پرې کار نه کوي، دا صرف دې د پاره منل چې دا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلې دي، دا د دې خبرې دليل دے چې د هغه پۀ زړۀ کښې اِطاعت دے- نور فرمائي: که رښتيا وايم نو د ايمان ځان خو دا دے چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خبر باندې د خپلو حَوَّاسو (سترګو، غوږونو او عقل وغيره) نه زيات اعتماد وي، که مونږ پۀ سترګو وينو چې دا وخت ورځ ده او نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې دا وخت شپۀ ده نو زمونږ سترګې دروغژنې دي او نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے دے ځکه چې سترګې پۀ زرګاؤ ځل غلطيانې کوي

خو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان چرې هم غلط نه وي- (14) يو شاعر څۀ ښه وئيلي دي:

اگر شاه رَوْزِ رَا گَوْيَد شَبْ اَسْت اِیْں | بِبَایَد گُفْتْ اِیْں کَهْ مَاه و پَروِیْں

مفهوم: که بادشاه د ورځې ووائي چې دا شپۀ ده نو وئيل پکار دي چې آؤ جي! دا وګوره! سپوږمۍ ستوري ښکاري-

## د کامِل يقين برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د عقل خبره ده، مونږ پۀ څۀ پوهيږو که نه، زمونږ وړوکے شان عقل د يوې خبرې جرړې ته رَسي که نه رَسي کومه خبره چې الله او رَسول فرمائيلې ده، هغه حق ده، که مونږ پۀ څۀ نه پوهيږو نو هغه زمونږ د عقل قصور دے- ځکه مونږ له يقين ساتل پکار دي، د کامِل يقين ډير برکتونه دي-

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خلقو ته پۀ دې دُنيا کښې د ټولو نه بهترين څيز يقين او عافيّت عطا کړے شوے دے، ځکه د الله پاک نه د دې دواړو څيزونو سوال کوئ---!!

امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا حديثِ پاک بيان کړو، بيا يې ووفرمائيل: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتيا ووفرمائيل: ❁ هم د يقين پۀ برکت جنّت نصيب کيږي ❁ هم د يقين پۀ برکت انسان د دوزخ د وور نه لرې وځي ❁ هم د يقين پۀ برکت فرائض پوره پوره ادا کيږي ❁ هم د يقين پۀ برکت انسان پۀ ايمان باندې ثابت قدم پاتې کيږي ❁ او پۀ عافيت کښې لوئي خير کيښودے شوے دے- (15)

---

[14] ...تفسير نعيمی، پاره :1، سورۀ بقره، زيرآيت :3، جلد:1 صفحہ:128-129 ملتقطاً-

[15] ...اليقين لابن ابی دنيا-

## د عبادت كمال څۀ دے؟

حضرت لقمان حكيم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل ځوي ته د نصيحت كولو پۀ وخت ووفرمائيل: ځويه! د هر يو عمل يو كمال او يوه انتها وي او د عبادت كمال **پرهيزګاري او پوخ يقين** دے۔ (16)

## د يقين پۀ بركت يــې جنّت نصيب شو

حضرت مُغِيره بن حبيب رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي چې حضرت عبد الله بن غالِب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفات شو نو چا هغوئي پۀ خوب كښې وليدلو او پوښتنه يــې ترينه وكړه چې ستاسو سره څۀ معامله وشوه؟ اوئې فرمائيل: بهترينه وه۔ پوښتنه يــې وكړه: اوس تاسو چرته روان يئ؟ اوئې فرمائيل: د جنّت پۀ لور۔ بيا يــې ووفرمائيل: زما دا نعمت **د ښه يقين او پۀ تهجدو كښې د اوږدو اوږدو نفلونو كولو پۀ بركت** نصيب شوے دے۔ (17)

## رحمت پۀ يقين ميلاويږي

حضرت عبد الله رَضِيَاللهُعَنۡهُ فرمائي: **بے شكه رحمت او د مشكلاتو نه نجات پۀ يقين او د الله پاك پۀ رضا كښې دے** او غم او پريشاني پۀ شك او د الله پاك پۀ نافرمانئ كښې ده۔ (18)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا د يقين بركت دے ✿ د يقين پۀ بركت باندې جنّت ميلاويږي ✿ د يقين پۀ بركت سره پريشانئ ختميږي ✿ د يقين پۀ بركت سره صبر كول اسانيږي ✿ د يقين پۀ بركت باندې انسان پۀ عبادت باندې استقامت بياموږي او ✿ هم د يقين پۀ بركت پۀ دُنيا كښې ترقي او پۀ آخرت كښې كاميابي نصيب كيږي۔

---

[16] ...اليقين لابن ابى دنيا۔

[17] ...اليقين لابن ابى دنيا۔

[18] ...اليقين لابن ابى دنيا۔

## چې ښه يقين هم ښه يې نتيجه

ډير مشهور **حديثِ قُدسي** دے: رَبِّ کريم فرمائي: اَنَاعِنۡدَظَنِّ عَبۡدِیۡ بِیۡ زۀ د خپل بنده د ګمان سره نزدې يم، کوم چې پۀ ما کوي- [19]

مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: دلته د عَبد نه مُراد مؤمِن بنده دے- يعني بنده چې زما پۀ باره کښې ښه يقين ساتي، زۀ به هم ښې معامله د هغۀ سره کووم- [20]

جو سوچتا ہوں، وہی بات ہونے لگتی ہے
جُڑا ہوا ہے زمانہ مرے گمان کے ساتھ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ دې حديثِ پاک باندې لږ شان غور وکړئ! الله پاک د بنده د ګُمان سره دے، چې ښه يقين وي، هم ښې نتيجې به يې نصيب کيږي، اوس لږ غور وکړئ! ❁ چې ذهن هم دا جوړ کړے شي چې پۀ ړنتياؤ وئيلو کاروبار نه کيږي نو بيا ووايئ چې پۀ رزق کښې به برکت د کوم ځائے نه راځي؟ ❁ چې ذهن هم دا جوړ کړے شي چې که د نـمونځ د پاره مې وخت ويستو نو پۀ کار کښې به نقصان وشي نو ووايئ چې بيا به پۀ کار کښې ترقي د کوم ځائے نه راځي؟ ❁ چې ذِهن هم دا جوړ کړے شي چې د ترقی د پاره دنيائي ډګرياني حاصلول ضروري دي نو بيا به د قرآنِ کريم برکتونه د کوم ځائے نه نصيب کيږي؟ ❁ چې ذهن جوړ کړے شي چې نن سبا د نيکۍ وخت نه دے نو بيا به د نيکۍ توفيق ښه نصيب کيږي؟ ❁ چې مال او دولت او دنيا هم هر څۀ وګڼې نو بيا به خيرونه د کوم ځائے نه نصيب کيږي؟

پۀ الله پاک نيک ګمان ساتئ! ❁ پۀ کاروبار کښې ړنتيا وايئ، الله پاک به رزق هم

---

[19] ...صحيح مسلم، کتاب الذکر و الدعاء ...الخ، باب الحث علی ذکر الله، صفحه: 1033، حديث: 2675۔

[20] ... مرآة المناجيح، جلد: 3، صفحه: 306۔

عطا کوي، په دې کښې به برکت هم اچوي ❀ چې د نـمونځ وخت شي نو ټول کارونه پریږدئ او د نـمونځ په لور د تللو عادت جوړ کړئ! الله پاک به دُنیا هم ښه کړي او آخرت به هم ښه کړي- ❀ قرآنِ کریم لولئ، زده کوئ یـې، په دې ځان پوهه کړئ او په دې باندې عمل کوئ! الله پاک به په دُنیا کښې هم ترقي درکړي، په قبر او آخرت کښې به درته نُور هم درعطا کړي-

## غَل قُطب څنګه جوړ شو---؟

علّامه ارشد القادري صاحب رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه یوه واقعه لیکلې ده، ډېره ښکلې ده، **مختصر** یـې درته بیانووم: عبد الله نومې یو ډاکو وو، الله پاک د هغهٔ هدایت نصیب کړو، هغهٔ ته قبر او آخرت وریاد شو، هغهٔ چې د خپلو ګناهونو په باره کښې سوچ وکړو نو په زړه یـې ګزار وخوړو، هغهٔ سوچ وکړو چې زهٔ ځان د نیکې لارې مسافر څنګه جوړولے شم؟ نو د درې ځلورو ګسانو سره یـې مشوره وکړه، چا هغهٔ ته ووئیل: که تهٔ خپله اِصلاح کول غواړې نو وړومبے مُرشد ولټوه، هم هغهٔ به تا ته د الله پاک لار وښائي- بیا خبره دا وه چې مُرشِد چرته ولټووم؟ مشوره ورکوونکے هم څوک نیک انسان وو، هغهٔ ووئیل: په الله پاک باندې یقین ساته او ووځه، په چا باندې چې ستا زړهٔ مطمئین شي چې دے پیر دے، هغهٔ خپل پیر جوړ کړه- چې کله شپهٔ شوه نو هغهٔ د الله پاک په بارګاه کښې په ژړا ژړا د زړهٔ نه رښتوني توبه کړه، په نیمه شپهٔ د پیر لټولو د پاره ووتو، د کلي نه بهر چوک ته رسیدلے وو چې یو کَس یـې راروان ولیدو، هغهٔ ذهن جوړ کړے وو چې هم دے پیر دے، زهٔ به هم د دهٔ مُرید جوړیږم خو هغه چې کوم راروان وو، هغهٔ پخپله هم یو غل وو، د شپې غلا له تلے وو، د دهٔ خو ذهن جوړ وو نو چې څنګه هُغه غَل رانزدې شو، دهٔ د هغهٔ لمن ونیوله چې پیر صاحبه! ما خپل مُرید جوړ کړئ! پیر صاحبه! ما خپل کړئ! د رَبّ په لار مې روان کړئ!

هغهٔ خو غَل وو---!! د هغهٔ سره د ځان فِکر شو چې هسې نه چرته ګیر نشم- خیر!

هغهٔ د ځان خلاصولو د پاره ووئيل: ځويه! تهٔ ما مُريد کړې- اوس زهٔ ځم، هم دلته اوسه، زهٔ چې واپس راشم نو تا به د الله پاک پهٔ لار روان کړم-

دا يـې چې ووئيل نو هٰغه غَل لاړو، دهٔ د خپل پير حکـم وکړو او هم هلته ودريدو، يوه ورځ تيره شوه، پير صاحب رانغلے، دويمه ورځ تيره شوه، پير صاحب رانغلے، د هغهٔ کور والا راغلل چې کور ته ځو! دلته پهٔ لار کښې مهٔ ودريږه- دوستان راتلل، ټولو د پوهه کولو کوشش وکړو خو د هغهٔ طلب رښتونے وو، شوق يـې پوخ وو، ليونتوب وو چې زهٔ نيک جوړيږم او هم پير به ما نيک جوړوي، پير صاحب وئيلي دي، ځکه به زهٔ هم دلته پاتې يم- پير خو څوک وو؟ يو غَل وو- هغهٔ خو نه راتلو او نه راغلے- عبد الله وو چې پهٔ دې انتظار کښې ولاړ وو-

قِسمت ته وګورئ چې هلته هٰغه غَل د غَلا کولو پهٔ نيت د حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ کور ته لاړو، دننه چرته پهٔ کور کښې پټ ناست وو، هلته حضور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د تهجدو د نـمونځ نه فارغ شو، يو کَس حاضر شو او عرض يـې وکړو: عالي جاه! د فلانکـي ښار اَبدال وفات شوے دے- حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د هغه د پاره د بخښنې دُعا وکړه او هٰغه غَل ته يـې د وِلايت نظر وکړو، پهٔ يو نظر يـې پهٔ هغهٔ توبه هم ويستله او د ولايت منزل ته يـې هم ورسولو، بيا يـې ووفرمائيل: اوس تهٔ د فلانکـي ښار ابدال يـې، فوراً هٰغه ځائے ته لاړ شه!

قِسمت ته يـې وګورئ چې د غَلا د پاره تلے وو او واپس وَلي جوړ شو او راغلے- بيا دا پخوانے غل خو اوسنے وَلِي کامِل د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ښودلے شوي ښار پهٔ لور روان شو، پهٔ لاره پهٔ هٰغه کلي تيريدلو، چرته چې عبد الله تر اوسه پورې د پير پهٔ انتظار کښې ولاړ وو- چې څنګه هلته ورسيدو نو عبد الله چغې کړې چې مرشِدِ کامِل راغلے او پهٔ منډه ورغاړه وتو- بيا هغهٔ ته ټوله واقعه وريادہ شوه او پوهه شو چې دا د يو کَس د رښتوني

شوق او پوخ يقين کمال دے چې رَبِّ کريم پهٔ ما باندې داسې عنايت وکړو۔ (21)
سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے د پوخ او کامِل يقين برکت--!! د هٔغه ځلمي يقين پوخ وو، د هغهٔ د هٔغه يقين پهٔ برکت د غَل قِسمت هم ښه شو او ېخپله د هٔغه ځلمي هم برکتونه نصيب شول۔ لہٰذا مونږ له پکار دي چې د خپل يقين پخولو کوشش وکړو۔

## يقين پهٔ زده کولو راځي

حضرت خالد بن مِعدَان رَحمَۃُ اللهِ عَلَيه فرمائي: تَعَلَّمُوا الْيَقِيْنَ كَمَا تَعَلَّمُوا الْقُرآن يعنې يقين هم داسې زده کوئ لکه څنګه چې قرآن زده کوئ! ما هم دا پهٔ زده کولو حاصل کړے دے۔ (22)
معلومه شوه چې يقين پهٔ زده کولو راځي، څکه به باقاعده کوشش کول وي، بيا به زمونږ يقين پخيږي۔ اوس به دا څنګه زده کوې؟ پهٔ زړهٔ کښې به يقين څنګه پخوې؟ راځئ چې د دې يو څو طريقې زده کړو:

## (1): دُعا کوئ!

د دې وړومبۍ طريقه خو دا ده چې **د الله پاک نه سوال کوئ!** د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دُعا کوله:

اَللّٰهُمَّ هَبْ لِیْ اِيْمَانًا وَّيَقِيْنًا وَّمُعَافَاةً وَّنِيَّةً

**ترجمه:** اے الله پاکه! ما ته پوخ ايمان، پوخ يقين، عافيت او ښتونے نيّت راعطا کړې۔ (23)

که ممکنه وي نو دا دُعا پهٔ عربۍ کښې ياده کړئ، کهٔ نه وي نو پهٔ خپله مورنۍ ژبه کښې

---

21 ... زلف و زنجير، صفحه: 271، ملخصا۔

22 ...اليقين لابن ابى دنيا۔

23 ...اليقين لابن ابى دنيا۔

يــې ياده کړئ! وخت پهٔ وخت د الله پاک نه سوال کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! کامِل يقين به مو نصيب شي۔

## (2): عِبَادت کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د يقين ښخولو دويمه طريقه ده: د عِبَادت اهتمام۔ يعنې پهٔ پوره اهتمام سره دې نيک کارونه وکړے شي۔ پهٔ دې هم يقين ښخيږي۔ امام اِبنِ اَبِي الدُّنيا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: د اهتمام سره پهٔ عبادت کولو ☜ فِکر ښخيږي ☜ د فکر ښخيدو سره عِبرت حاصليږي ☜ د عبرت پهٔ ذريعه دانائي نصيب کيږي ☜ د دانايي پهٔ ذريعه ښه اراده حاصليږي (يعنې قوتِ ارادي مضبوطيږي) ☜ د ښې ارادې (يعنې د قوتِ ارادي) پهٔ ذريعه يقين کامِل کيږي ☜ د کامِل يقين پهٔ ذريعه د دُنيا نه بے نيازي حاصليږي ☜ د دې بے نيازی پهٔ برکت د الله پاک محبت نصيب کيږي ☜ او د الله پاک د محبت پهٔ ذريعه د الله پاک قُرب حاصليږي۔ [24]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خومره ښکلې خبره ده، پهٔ دې روايت کښې ترتيب ته لږ وګورئ! د مثال پهٔ طور چې څوک خوش قِسمته پينځه واړه نـمونځونه د جَمعې سره پهٔ جومات کښې د تکبير اُولیٰ سره پهٔ پوره اهتمام سره ادا کوي، بيا به د دې اهتمام پهٔ برکت ☜ فِکر ښه شي ☜ چې فِکر ښه شي نو عبرت به نصيب شي ☜ چې عبرت نصيب شي نو دانائي او عقلمندي به حاصله شي ☜ چې عقلمندي حاصله شي نو عَزم (يعنې قوتِ ارادي) به زيات شي ☜ چې قوت ارادي زيات شي نو يقين به پوخ شي ☜ چې يقين پوخ شي نو د دنيا نه به بے رغبتي نصيب شي ☜ چې بے رغبتي نصيب شي نو د الله پاک محبت به حاصل شي ☜ چې د الله پاک محبت حاصل شي نو د رَبِّ کريم قُرب به نصيب شي۔

---

[24]...اليقين لابن ابی دنيا۔

وګورئ! خبره شروع شوه د نيکو د اهتمام نه او نتيجه څهٔ راوخته---؟ د الله پاک قُرب-څکه پوخ يقين حاصلول پکار دي، که د کامِل يقين برکتونه حاصلول غواړئ، د الله پاک قُرب غواړئ نو نيک کارونه پهٔ پوره اهتمام سره شروع کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي-

## پهٔ نيک اعمالو باندې د استقامت طريقه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ نيک اعمالو باندې د استقامت موندلو يوه بهترينه طريقه دا ده چې د مکـتبة الـمدينه نه نيک اعمال رساله واخلئ! نيک اَعمال د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے شوې بهترينه تحفه ده، دا رساله ولولئ! د دې مطابق خپل جدوَل جوړ کړئ! د دې پهٔ ذريعه روزانه د خپلو اعمالو جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! ❀ پهٔ نيکو باندې به اِستقامت هم نصيب شي ❀ پهٔ اخلاقو او کردار کښې به مو بهتري هم راشي ❀ پهٔ عشقِ رسول کښې به اضافه هم کيږي ❀ روحانيت به هم درنصيب شي ❀ او که الله پاک وغوښتل نو کامِل ايمان او پوخ يقين به مو هم نصيب شي-

## (3): د دُنيا نه بے رغبتي اختيار کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د ايمان او د يقين زياتولو يوه طريقه د دُنيا نه بے رغبتي اختيارول هم ده- د الله پاک د نبي حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام معجره ده چې هغوئي به د سمندر پهٔ اوبو باندې داسې ګرځيدل لکه څنګه چې پهٔ زمکه باندې ګرځي- يو ځل د هغوئي حواريانو عرض وکړو: آيا مونږ هم [پهٔ اوبو باندې] داسې ګرځيدے شو؟ حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ووفرمائيل: که ستاسو يقين پوخ شي نو ضرور ګرځيدے شئ، دا چې يې واوريدل نو يو حواري کوشش وکړو خو هغهٔ اونه ګرځيدے شو، پهٔ ډوبيدو

شو، حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغه بهر راويستو- بيا يـې پۀ يو لاس کښې خاوره او پۀ بَل لاس کښې سره زر راواخستل او اوئې فرمائيل: ستاسو پۀ زړۀ کښې پۀ دې دواړو کښې د څۀ خيز خواهش دے؟ هغوئي عرض وکړو: د سرو زرو- حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ووفرمائيل: زما پۀ نزد دا دواړه يو شان دي-[25]

معلومه شوه چې کله بنده د دُنيا نه داسې بے رغبته شي نو د هغه پۀ نزد کاڼې او سره زر يو شان شي نو ايمان او يقين پوخ شي- الله پاک دې زمونږه د دُنيا نه بے رغبتي نصيب کړي- کاش چې کامِل ايمان او پوخ يقين مو نصيب شي- اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د الله پاک پۀ لار کښې

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** پۀ زړۀ کښې د الله او د رسول محبت زياتولو، د ايمان او د يقين پخولو او د دِين او د دُنيا د خيرونو موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **يوه ورځ د الله پاک پۀ لار کښې** هم دے-

❁ **د اوسني وخت عظيم او روحاني شخصيت** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې **"ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-"** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ!

❁ **د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول** د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي والو علاقو، د ښار اړخونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي

---

25...(موسوعه ابن ابی دنیا)۔

او د نیکۍ دعوت عام کوي ❁ پهٔ هره یوه ورځ خصوصاً د جُمعې/اتورا پهٔ ورځ اِسلامي وروڼه دغه علاقو ته ځي ❁ هلته پهٔ جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ❁ د نیکۍ دعوت عام کولے شي ❁ تاسو هم تشریف راوړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! ❁ د عِلمِ دِین زده کولو موقع به درته میلاویږي ❁ د نیکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصیب کیږي ❁ د الله پاک پهٔ لاره کښې به د وتو سعادت درنصیب کیږي ❁ د حدیثِ پاک خُلاصه ده: پهٔ کوم قدم باندې چې د الله پاک پهٔ لار کښې دوړه پریوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کیږي (26) ❁ کوم کَس چې د الله پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو وروڼو خوا له د ښار اړخونو ته لاړ شي، پهٔ حدیثِ پاک کښې د هغه د پاره د جنّت زیرے راغلے دے-(27)

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

یو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځلمو پهٔ شان پهٔ غفلت کښې ژوند تیرولو، سندرې سازونه اوریدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما یو ریډیو هم اخستے وو، زما بخت څهٔ داسې رابیدار شو چې یوه ورځ زمونږ علاقې ته یو څو اِسلامي وروڼه یوه ورځ د الله پاک پهٔ لار کښې د تیرولو د پاره راغلل، پهٔ هغوئي کښې یو اِسلامي ورور ما ته پهٔ دې دیني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، لهٰذا زهٔ هم د یو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو پهٔ وخت یو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض وکړو: که یاد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! ضرور به شرکت کوو-

بهر حال مونږ پهٔ اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د هٔغه اِسلامي ورور سره ملاقات

---

[26]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحہ:507، حدیث:16356 خلاصۃً۔

[27]... معجم اوسط، جلد:1، صفحہ:472، حدیث:1743۔

وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغهٔ دومره پهٔ ښو اخلاقو میلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اسلامي شو- زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نـمونځونو پابندي مې نصيب شوه، د سندرو ځائے نعت شريف واخستو، مخ مې پهٔ ګيره ښائسته کړو او عمامه مې پهٔ سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلم-

عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول | ہے فَیضانِ غوث ورضا دینی ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا دینی ماحول

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجی پهٔ ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے- پهٔ دې ايپلي کيشن کښې ❀ مکمل قرآنِ کريم ❀ د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلې ترجمهٔ کنز الايمان ❀ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❀ پهٔ اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير **صِرَاطُ الـجنان** شامل دے- ❀ قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير پهٔ آډيو ***(Audio)*** کښې هم اوريدے شئ- ❀ هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل جمع کړے شوي دي ❀ د مَدَني چينل تفسيرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه پهٔ اسانۍ سره کتے شئ ❀ نور دا چې قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير پهٔ وټس ايپ ***(Whats App)***، پهٔ فيس بُک ***(Facebook)*** وغيره باندې د خپلو دوستانو سره شيئر

کولے هم شئ- دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِين زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ **اميرِ اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه **پۀ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل د شپې **تقريباً 9:15** بجې

اِنْ شَآءَ الله! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به **شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **آيا تنګ لاسي هم نعمت دے؟** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ اَلْحَمْدُ لِله! د حج مياشتې رواني دي، د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اليا عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير ښکلے کتاب دے: رفيق الحرمين- د دې کتاب نه به تاسو زده کړئ ❁ د احرام تړلو طريقه او احتياطونه ❁ د طواف د 7 چکرو طريقه او د هغې دُعا ❁ د صفا او مروه د سعي پۀ وخت کيدونکے يو ضروري احتياط ❁ د طواف پۀ وخت کومې خبرې حرامې دي، کومې مکروه دي او کومې جائز دي- د دې نه علاوه نور ډير څۀ---!!

دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ غټ سائز کښې پۀ 330 روپۍ او پۀ

وړوکي سائز کښې په 240 روپۍ په بيعه اخستے شئ- هم نن دا کتاب واخلئ! ګخپله يـې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغۀ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي- [28]

هر کام شريعت کے مطابِق ميں کروں کاش! | يارب! تو مبلّغ مجھے سُنّت کا بنا دے[29]

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګوتمې په باره کښې سُنَّت او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د نارينه د پاره د سرو زرو ګوتمه په لاس کول حرام دي- د دواړو جهانونو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې په لاس کولو نه منع فرمائيلې ده ✿ نابالغه (يعني ډير وړوکي) هلک ته (هم) د سرو زرو سپينو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو هغه به ګنهګاريږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او ښپو باندې بغير د ضرورت نه نکريزه لګول جائز نه دي- زنانه يـې ګخپله په خپلو لاسونو او ښپو باندې لګولے شي، خو که هلک له يـې لګوي نو ګنهګاريږي به ✿ د اوسپنې ګوتمه د دوزخيانو کالے دے ✿ د نارينوو د پاره ءغه ګوتمه جائز ده کومه چې د

---

[28]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[29]...وسائل بخشش، صفحه:115۔

نارينوو د ګوتمې پۀ شان وي يعنې صِرف د يو غمي والا وي او که چرې پۀ هغې کښې (د يو نه زيات يا) ډير غمي وي نو که هغه د سپينو زرو ولې نه وي، د نارينوو د پاره جائز نه ده ❁ بغير د غمي نه ګوتمه پۀ لاس کول جائز نه ده چې دا ګوتمه نه ګڼړه ده ❁ د سپينو زرو د يوې ګوتمې د يو غمي وزن چې د څلور نيمو ماسو (يعنې څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، پۀ لاس کول يـې جائز دي ❁ پۀ اخترونو کښې ګوتمه پۀ لاس کول مستحب عمل دے۔ خو نارينه دې هغه جائز والا ګوتمه پۀ لاس کوي ❁ نارينه له پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړوي او زنانه دې د لاس شا طرف ته ساتي ❁ د سپينو زرو ګڼړه خاص د زنانوو جامه ده د نارينوو د پاره مکروه (تحريمي، ناجائزه او ګناه ده) ❁ زنانه چې د سرو زرو او سپينو زرو څومره هم ګوتمې او ګڼړې پۀ لاس کولے شي، پۀ هغې کښې د وزن او د غمو د شميرې څه قيد نشته ❁ د اوسپنې ګوتمې ته د سپينو زرو خول اچول چې هغه بالکل اوسپنه بيخي نه ښکاري، د هغې ګوتمې پۀ لاس کول (د نارينه او زنانه دواړو د پاره) منع نه دي۔ (30)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتيں سيکھنے تين دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

[30] 550 سنتيں اور آداب، صفحه:57 و 58 ملتقطًا۔